مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۴/۱۲/۲۹

# د افغانستان او سوريې ترمنځ ؛ پيوندونه او پيغورونه

له هرڅه وړاندې، د زړه له تل څخه دعا کوم چې د کون او کائناتو ستر واکمن دې ۲۰۲۵ ميلادي کال زموږ د نړېوال کلي د اته ميلیارده انسانانو لپاره د سولې د وړمو، ترانو او نغمو کال وګرځوي. درې اونۍ وړاندې په سوريې کې د حافظ الاسد او بشار الاسد د خونکاري رژيم ۵۴ کلنه اوسپنيزه واکمني د تاريخ په توري تاخچې کې مهرو لاک شوه. په دمشق کې د صيدنايا زندان چې په بشري مسلخ سره شهرت لري، د نړېوالو خبري آژانسونو د راپورونو له مخې په ټولې دنيا کې دريم خطرناک زندان وپيژندل شو. دلته په تيرو ديارلسو کلونو کې له يولک څخه زيات سوريايي وګړي بنديان شوي او د ۴۵ زره زندانيانو هډوکي په ډله ايزو قبرونو کې په نښه شويدي.
د بشار تخلص اسد دی، خو دومره ډارن انسان وخوت چې د تيښتې په شپه يې خپل سکنی ورور، ماهر الاسد هم خبر نه کړ او د دوه ټنه په تول له نغدو ډالرو سره په روسی الوتکې کې مسکو ته وتښتيد. ويل کيږي چې يونيم ميليارد ډالر يې لا پخوا روسيې ته لیږدولي دي؛ خو هيڅ افغان مشر شاميانو ته د هيڅ ډول نادودې او بېغيرتی پيغرنده ونکړه. بشار داسې ملت ترشا پريښود چې د سور صليب او العربية د ټلوېزيوني چينل د معلوماتو له مخې، نوي سلنه هېوادوال يې د فقر د کرښې لاندې ژوند کوي. مخکې له دې چې زه دلته د سوريې د نوي مشر د ضمني پيغور ځواب ووايم چې افغانستان خو يوه قبائلي ټولنه ده، غواړم د يو امانت او يو پور په توګه د څو ټکو يادونه وکړم.
نن که په هند، سند او افغانستان کې له منارو څخه د آذان غږونه پورته کيږي، که په ختيز ترکستان کې د چا نوم محمد او احمد دی او که په بخارى او ترمذ کې چا نبوي احاديث راجمع کړيدي، دا ټول په دمشق کې د بني اميه د دولت شاهکارونه دي. سوريه د حضرت معاويه بن ابي سفيان، حضرت خالد بن الوليد، حضرت عمرو بن العاص، حضرت زينب، حضرت عمر بن عبدالعزيز او سلطان صلاح الدين ايوبي په څير د تاريخ جوړونکو شخصيتونو د مزارونو وطن دی. سوريه د سترګه ور شاعر، نِزار قَبَاني د قصيدو او غزلونو ټاټوبی او د آيفون او ايپل کمپيوټر د اصلي مخترع، سټيف جابز د پلار عبدالفتاح جَندَلِي پلرنی هېواد دی.
له بله اړخه، له پيرنګيانو څخه د خپلواکی د اتل اعليحضرت امان الله خان د ميرمن ملکه ثريا مور، اَسماء رَسميه د سوريې د حلب اوسېدونکې وه. مورنی نيکه يې شيخ محمد صالح افندي نومېده چې د دمشق د اُموي جامع مسجد مؤذن وو. د يادونې ده چې په ۱۵۳۷م کال کې د هند د مغولي همايون له ماتې وروسته فريد خان (شېر شاه سوري) د پښتنو د دغې پراخې واکمنۍ بنسټګر وو. زما قدرمند دوست او څېړونکي، ډاکټر لطيف ياد پرون ما ته يوه ليکنه را واستوله او په هغې کې يې ليکلي چې په هندوستان کې سوري کورنۍ په غته کې لودي پښتانه دي او د شام يا سوريې له خلکو سره کوم قومي تړاو نه لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

اوس به راشم د سوريې د نوي مشر څرګندوني ته چې وايي: «موږ د طالبانو په ډول نه يو. افغانستان يوه قبائلي ټولنه ده، خو د سوريې د ټولني فکر، چلند او طبيعت بل ډول دی. موږ د اِدلِب په سيمې کې پوهنتونونه درلودل او د ښځو ونډه په کې له شپېته سلنې زياته وه». ما د يوټيوب د خپل چېنل له لارې د دغې ضمني پيغرندي ځواب په عربي ژبې ورکړی او که څوک له عربي سره اشنا وي، نو د همدې ليکني په ملتيا دې د لېنک په کېکارلو سره هلته وګوري.

په لنډو به همدومره ووايم چې همدې افغاني قبائلي ټولني له نن څخه ۲۷۷ کاله وړاندې، يعني په ۱۷۴۷م کال کې يو منتخب ټولواک درلود. د معاصر افغانستان بنسټګر، احمد شاه دراني د لويې جرګې په ترڅ کې د ټولو قومونو او خېلونو مشرانو هغه ته د مشرۍ پګړۍ په سر کېښوده. په هغه وخت کې دا کمسارۍ ولسواکی نوښت د افغانانو د تمدن تر ټولو غوره بېلګه ده. له نن څخه ۱۰۲ کاله وړاندې، يعنی په ۱۹۲۱م کال کې په کابل کې افغان ميرمنو د يوې ميرمنې تر مشرۍ لاندې د «إرشاد النسوان» په نوم يوه جريده درلودله چې په قلمي ډول يې خپروني کولې. ما پخپله د دغې خپروني د اول کال ۱۷ګڼه ليدلې، لوستلې او کاپي يې له ځان سره لرم. همدا شان د کابل راډيو لومړنی پښتنه ويانده يوه کونړۍ سيده مستوره شال نوميدله او زه پخپله په ډېر وړوکوالي کې د هغې له غږ سره بلد ووم. نوموړې د اسمار په ولسوالی کې د سناتور سيد عبد الرزاق (شال پاچا) لور ده؛ په ۱۳۰۹ لمريز کې زېږيدلې او په ۱۳۷۷ کې وفات شوېده.

د يو قبيلوي عقيدتمند ملت په توګه، دا زموږ د ايمان برخه ده چې ښځه له نر سره په ثواب، عذاب، امر او نهي کې برابره ده. ښځه د نر په شان انسان دی، مساوي انسان، مسئول انسان او عاقل انسان. د کار، تعليم او د ميړه د انتخاب حق يې په الهي شريعت او مدني قانون کې خوندي دی. د رسول عليه السلام له لاربښوونو څخه ده چې فرمايي: (إنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ، مَا أكرَمَهُن إلا كَرِيم، وَ مَا أهَانَهُن اِلا لَئِيم - ښځې د سړو په څېر دي، کوم کس چې د ښځو درناوی کوي هغه به پخپله عزتمند وي، او څوک چې دوئ سپکوي نو هغه به پخپله سپک سپاند او ناځوانه وي).

-----------

پاملرنه: که دوستان وخت او علاقه لري چې د ملکزي نوري مقالې، خبرنې او ويډيوګانې وګوري، نو د هغه فېسبوک او د يوټيوب چېنل ته دې په دې پته ورشي: Wali Malakzay

[هغه ويډيو چې ښاغلي ولي الله ملکزي په عربي ژبې خبرې کړې (دلته کليک کړی).](#)



[د ليکوال نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ](#)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ